مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حکیم روان

۲۰۲۰/۰۲/۱۰

اې د نړۍ خلکو!

اې د نړۍ خلکو تاسو وینئ چې غوغا ده؟
دلته ستاسو مینځ کې جاری ځنګه ناروا ده؟

اې ړندو په سترګو په غوږونو باندې واورئ
دلته زمونږ په غوښو اخته توره آژدها ده

تور پنجاب د تک تور آژدها تر شا ولاړ دی
لو دی د سرونو دلته جوړه کربلا ده

جوړ حمام د وینو د پیغلوټو شا زلمیو
دلته جنوساید دی د نسلونو قتلګاه ده

زمونږه ملاګګ یې ګمارلی دی فتوا ته
دلته د مالونو غنیمت د سر سودا ده

جوړ دی دین فروشو قیامت زما پر خلکو
وطن ملا د پاره د ثواب یو کپ حلوا ده

داو یې کړو الله(ج) محراب یې پرېښود ترې نه ولاړو
عشق کې د پیمخو ډالر مینه د ملا ده

خلک یې میرات، وطن برباد، دین یې دوزخ کړ
ښځې درې ځلور یې د خچن زړګی هوا ده

کونډې یتیمان مو بې اسرې تاسو ته ګورې
لوګی مو اسویلی شوه خخه ستونی کې ژړا ده

د ږیرو په یورش کې یې د مور پړونی یووړ
لیلام یې کړو پردو ته اوس د دین داسی مانا ده

درې ورونو القاعدې، طالب، داعش زمونږ و بیخ ته
نیولی کولنګونه د دین داسې اقتضاء ده

آسمان باندی غږ وکړئ زمونږ غږ نه وررسیږي
چې دلته دې شپه بس کړی نور په ټول جهان رڼا ده

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مونږ اوس په درد پوهیږو د آپینو خوبوړي
چې کومو اجنټانو پر مونږ جوړه واویلا ده؟

کوډګرو ، دروغجنو، شرمیدلیو نوکرانو
ولس ته مو د دین په نوم چلوټه اوس رسوا ده

غبرګون ته مو تیار دی لر او بر افغان په زغرده
چې سر د مغل پرې کړې د خوشال توره یې ترملا ده

را خیږه سپینه لمره چې تور مخي شپې سبا شی
را جګ مو له سجدو کړه ، سخته تنده د ګډا ده

چې وخت د آتڼونو شی قطار شی ځلمی پېغلې
چې واوړی او را وا وړي په آتڼ کې مو بقاء ده

او اې د نړۍ خلکو زمونږ د ژوند سره تړون دی
د ژوند او د سرور سره زمونږ مینه رښتیا ده

هزار ځل قربانیږو د ژوندون له یوې لمحې نه
رښتیا ده دا رښتیا ده په رښتیا سره رښتیا ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ